پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱٤/۰۹/۰۸

# ټاکنيزی ناخوالی او ضد و نقيض څرګندونی

دا خو اوس نه یوازی هیوادوال دی چی د خپلو ورکړو رایو له شره نه خلاصیږی او پر ورکولو یی پښیمانه دی، بلکه نړیوال یی هم تر پزی پوری په تنګ کړی.د افغانانو په دودیزه ټولنه کی لویدیزی دموکراسئ دا خبره یوار بیا په ډاګه کړه چی د ټولنی وده د ټولنیزو پراوونو و بشپړولو ته اړتیا لری. د یوه ټولنپوه عالم له خولی می اوریدلی وه چی د یوه ښار جوړول د یوه نفر د ذهنیت تر بدلولو اسانه دی.



که د هیواد د عادی وګړو څخه تیر سو، ایا زموږ د ټولنی هغه تر ټولو لوړ نخبګان چی د «دیموکراسی» اصطلاح یی د ژبی پر سر ورد ګرځیدلی او د بسم الله نه یی مخکی نوم اخلی (نعوذ بالله) او بیا په خبرو پیل کوی، د «دیموکراسئ » په مانا پوهیږی کنه؟ زه یقین لرم چی ډیر ښه ور باندی پوهیږی او کولای شی ساعتونه یی په اړه لکچر ورکړی. اوس دا پوښتنه را پیدا کیږی چی ایا تر کومی کچې یی خپل ذهنیت ور سره عیار کړیدی. دا هغه څه دی چی د یوه ښار جوړول تر دی کار اسانه ګڼل شویدی.

که داسی وی، نو ایا ویلای شو چی د دیموکراتیکو اصولو په ماتولو باندی دغه کسان ملامت دی کنه؟ زما په اند دلته دوی خبری مهمی دی. یوه ډله هغه کسان دی چی د دیموکراسی په تیوریتیکی اړخ باندی بلد، خو نه یی خپل ذهنیت او نه هم د ټولنی ذهنیت ورته اماده بولی. بله ډله هغه کسان دی چی دا پدیده په خپل ذهنیت او ټولنیز ذهنیت کی قبوله شوی او د دوی په خبره «نهادینه شده» بولی او په عمل کی یی اصول تر پښو لاندی کوی. ددغی ډلی د تبرئه کولو او د ملامتئ نه د خلاصون د پاره زه هیڅ ډول عینی او ذهنی دلایل نه وینم.

په دیموکراسی کی بنسټیز ټوکی د اتباعو تر منځ یو د بل حق منل او په یوه هیواد کی د دیموکراسی تر ټولو مهم انستیتوت ټاکنی او ټاکنیز سیستم دی. د اتباعو حقونه او ټاکنیز سیستم د نوموړی دموکراتیک هیواد د اساسی قانون پر بنسټ په ګوته کیږی. هغه کسان چی ځانونه و ټاکنو ته د اساسی قانون لخوا د ورکړل شوی حق له مخی نوماند کوی او بیا پر قران مجید باندی لاس ږدی او لوړه کوی چی ددغه قانون ساتونکی به وی، باید د پیل له وخته یی د زړه له کومی د هغه و مراعات کولو ته ملا تړلی وی.

پرون (د سیپتمبر ۷) می په تاند دات کام کی یو خبر تر سترګو شو چی د ښاغلی ډاکتر عبدالله د یوه ویاند (مجیب رحیمی) له خولی یی لیکلی: «د عبدالله ویندوی وايي، که دوی مساوي واک ورنه کړای شي ويني به وبهيږي». که څه هم دغه ځوان نده په ډاګه کړی چی د چا وینی به وبهیږی، د اشرف غنی او که د عبدالله او یا هم د تل پشان به د بیګناه خلګو وینی و بهیوی. خو له دی څرګندوونو نه یی لاندی څو ټکی په ښکاره خبری کوی:

الف ـ دا معتبر ویاند په څرګندو ټکیو ځانونه بایلونکی بولی او وایی چی که موږ ته هم یو څه را نکړئ، نو وینی به و بهیوو.
ب ـ د ښاغلی عطا نور نارنجی حرکتو ته اشاره کوی چی په زوره یی د واک تر لاسه کول غوښتل.
ج ـ پر دیموکراسی او قانون باندی ناړی تو کوی او مراعات ته یی اصلا ژمن ندی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

همدغه ښاغلی مجیب رحیمی چی د سیاست سره هم بلد کس مالومیږی، خو داچی د بایللو تلقین سوی خبری خورا گنس کړیدی، ددغو څرگندونو سره جوخت څو کرښی وروسته وایی: «. . . . د اصلاحاتو او همپالنی په ټیم کی غښتلی ډلی له اشرف غنی سره د واک د ویش مخالف دی.»
ددغو څرگندوونو نه یی بیا بل څه په ډاگه کیږی:
الف ـ داخل بیا ځانونه گټونکی بولی او وایی چی د ښاغلی عبدالله او دده د ټیم د غښتلو ډلو تر منځ جگړه پر دی خبره روانه ده چی ایا اشرف غنی ته هم په واک کی یوه برخه ورکړی او که یی ورنکړی. ددغو څرگندوونو بیا داسی مالومیږی چی ډاکتر صاحب عبدالله به د خپل ټیم د یوشمیر غښتلو ډلو وینی پدی خاطر و بهیوی چی هغوی ډاکتر اشرف غنی ته د ونډی ورکولو مخالفت کوی.

ب ـ دا څرگندوونی دا هم په ډاگه کوی چی د همپالنی په ټیم کی درزونه پیدا شوی، نانډری روانی دی او هره سیمه ایزه او گوندیزه ډله ځانته امتیازونه غواړی.

ښاغلی مجیب رحیمی د خپلو دغو ضد او نقیضو خبرو برسیره د کشالی د حل په موخه لاندی وړاندیز کوی: «... که موږ موافقه وکړو او د موافقې شرایط دواړو کاندیدانو ته مساوي واک ورکړي، د ترینگلتیا مخه به ونیول شي، ممکن د تشدد مخه ډب شي.»
دا څرگندوونی بیا د دواړو مخنیو سره په تضاد کی دی. دلته بیا ټولټاکنی هیح مانا نلری، دواړه نوماندان باید ټول وزارتونه، ولایتونه او اداری په مساویانه ډول پر دوو برخو وویشی او بیا (شیر خط) وکړی. هر چاته که هره نیمه برخه ورسیده، هغه به یی منی، تریگلتیا به پریږدی او د تشدد مخه به ډب کوی.
وایی (ازموده را ازمودن خطاست). خلک اوس دا ډار لری چی که تصادفاً پدغه (شیر خط) کی ډاکتر غنی ته د لوړو دوو مساوی برخو څخه لږ غوندی غوره برخه ورسیده، بیا هم خامخا د ډاکتر صاحب عبدالله پر تندی گونځی راځی او غښتلی ډلی به د وینو بهیولو گواښونه کوی. څکه نو پکار ده چی هرقضاوت اساسی قانون، د مدنی بنسټونو استازو او هغو په سلگونو د م. م. ماهیرانو ته پریښودل شی چی د ډاکتر صاحب عبدالله په غوښتنه په کار گمارل شوی دی. خو بیاهم خاتمه مستوره ده.

پای

۸ / ۹ / ۲۰۱۴

مجیب رحیمي په عین حال کي د عبدالله په انتخاباتي ټیم کي درز ته اشاره وکړه، ويي ویل چي د اصلاحاتو او همپالني په ټیم کي غښتلي ډلي له اشرف غني سره د واک وېش مخالفه دي.
ده زیاته کړه: «که موږ موافقه وکړو او د موافقي شرایط دواړو کاندیدانو ته مساوي واک ورکړي، د ترینگلتیا مخه به ونیول شي، ممکن د تشدد مخه ډب شي.»
رحیمي همدا راز وویل: «که موافقه داسي وي چي یوه خوا توهین شي او د بلي خوا په گټه وي او هره خوا باور ولري چي انتخابات يي گټلي دي، دا به د منلو نه وي.»
په همدې حال کي د اشرف غني احمدزي یوه ویندوی وویل چي کاندید يي له عبدالله سره د ملي یووالي د حکومت جوړولو ته ژمن دی خو له دې سره موافقه نه شي کولی چي هغه چا ته د اجرایي چارو د ریاست ترڅنگ د کابیني مشري هم ورکړي چي انتخابات يي بایللي دي ځکه دا د افغانستان د اساسي قانون خلاف کار دی.
د افغانستان اساسي قانون د دري گونو قواوو او دغه راز د کابیني مشري ولسمشر ته ورکړي ده.
د ښاغلي احمدزي یوه ویندوی طاهر زهیر وویل:«زموږ اساسي قانون د دې موضوع په اړه بالکل واضح دی خو بیا هم دا مسله له دواړو کاندیدانو سره اړه لري.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ